د افغانستان اسلامي آمارت

لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

د اولیه مرستو روغتیایي مرکز عمومي کمېټه

# د اولیه مرستو روغتیایي مرکز عمومي کمیټې پالیسي

تحصلي کال: ۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم


د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

# د مطالبو لړلیک


سریزه................................................................................................................ ۱

**موخې**.............................................................................................................. ۲

د تګلارې ارزښت او اړتیا .................................................................................... ۲

د اولیه مرستو روغتیایي مرکز د تطبیق ساحه......................................................... ۳

اصطلاحات او تعریفونه.......................................................................................... ۴

اساسي اصول ...................................................................................................... ۴

د صحي مرکز تشکیلات او دندې .......................................................................... ۵

د پوهنتون د صحي مرکز اورګانوګرام ...................................................................... ۵

د محصلینو روغتیایي حقوق او مسؤلیتونه................................................................. ۶

د پوهنتون د روغتیایي خدمتونو سیستم.................................................................... ۷

د لومړنیو طبي مرستو تګلاره ................................................................................. ۷

د عاجلو حالاتو مدیریت ......................................................................................... ۸

د ساري ناروغیو مخنیوی او کنټرول.......................................................................... ۸

واکسین او وقایوي پروګرامونه.................................................................................. ۹

د استادانو د لیلیې د تغذیې او صحي خوراک اصول ................................................... ۹

د ښکاک اوبو او تشنابونو معیارونه............................................................................ ۹

د پوهنتون د چاپېریال ساتنه اصول .......................................................................... ۹

د مخدره توکو د استعمال د مخنیوي په اړه اقدامات..................................................... ۱۰

د فزیکي فعالیت او سپورټ ملاتړ............................................................................. ۱۰

د معلولیت لرونکو محصلینو روغتیایي اسانتیاوې ...................................................... ۱۰

د درملو ذخیره او استعمال اصول............................................................................. ۱۰

د محرمیت او طبي معلوماتو ساتنه............................................................................ ۱۰

له پوهنځیو څخه د روغتیایي شکایتونو او راپور ورکولو میکانیزم ................................ ۱۰


Paktika University
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs

## سریزه

اولیه مرستې د بشري ژوند د خوندیتوب، د ټپونو او ناڅاپي ناروغیو د اغېزو د کمولو، او د مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره یو له تر ټولو مهمو او بنسټیزو اقداماتو څخه دي. په بیړنیو حالاتو لکه طبیعي پېښو، ترافیکي پېښو، کاري حوادثو، ناڅاپي ناروغیو او نورو اضطراري وضعیتونو کې پر وخت او سمه لومړنۍ مرسته کولی شي د یو انسان ژوند وژغوري او د دایمي معیوبیت مخه ونیسي.د ټولنې د خوندیتوب او روغتیا د پیاوړتیا په موخه، د اولیه مرستو عمومي کمېټه د دې لپاره رامنځته شوې ده چې د لومړنیو مرستو د تنظیم، همغږۍ، معیاري کولو او پراختیا چارې په اغېزمن ډول پر مخ بوسي.

دا کمېټه هڅه کوي چې د ټولنې د غړو ظرفیت لوړ کړي، د لومړنیو مرستو اړوند پوهاوی زیات کړي، او دا یقیني کړي چې په بیړنیو حالاتو کې چټک، مؤثر او خوندي غبرګون موجود وي.دا پالیسي د اولیه مرستو د عمومي کمېټې د اهدافو، اصولو، مسؤلیتونو، دندې، تشکیلاتي جوړښت او کاري میکانېزمونو د روښانه کولو لپاره ترتیب شوې ده. د دې پالیسۍ موخه دا ده چې د کمېټې ټول غړي د یو واحد چوکاټ، منظم طرزالعمل او واضح لارښوونو له مخې فعالیت وکړي، تر څو د اولیه مرستو خدمات په عادلانه، شفافه او معیاري بڼه وړاندې شي.

همدارنګه، دا پالیسي د ملي او نړیوالو بشردوستانه اصولو، د عامې روغتیا معیارونو او انساني ارزښتونو پر بنسټ جوړه شوې ده او د بې‌طرفۍ، بشردوستۍ، مسؤلیت‌پذیرۍ او همکارۍ اصول په کې په پام کې نیول شوي دي. د دې پالیسۍ پلي کېدل به د دې لامل شي چې د بیړنیو حالاتو پر مهال د منابعو سمه استفاده وشي، د مرستو تر منځ همغږي رامنځته شي او د خلکو باور پر کمېټه لا زیات شي.

انساني ژوند تر ټولو ستر او ارزښتمن امانت دی، او د دې ژوند ساتنه د هرې ټولنې اساسي مسؤلیت بلل کېږي. په ورځني ژوند کې انسانان له بېلابېلو ناڅاپي پېښو، ټپونو، ناروغیو او اضطراري حالاتو سره مخ کېږي چې که پر وخت او په سمه توګه ورسره چلند ونه شي، نو د مرګ، دایمي معلولیت او یا هم د روغتیا د جدي زیان سبب ګرځي. په همدې اساس، اولیه مرستې د عامې روغتیا، بشري خوندیتوب او ټولنیز مسؤلیت یو له مهمو بنسټونو څخه ګڼل کېږي.اولیه مرستې هغه عاجل، ساده خو حیاتي اقدامات دي چې د مسلکي روغتیایي خدمتونو تر رسېدو مخکې د ټپي یا ناروغ کس د ژوند د ژغورنې، د وضعیت د خرابېدو د مخنیوي او د درد او کړاو د کمولو لپاره ترسره کېږي. څېړنې او تجربې ښيي چې د بیړنیو پېښو په لومړیو دقیقو کې د سمې لومړنۍ مرستې نشتوالی کولی شي د درنو پایلو لامل شي، حال دا چې پر وخت مداخله د انسان ژوند ژغوري او د روغتیایي زیان کچه راکموي.

د اولیه مرستو عمومي کمېټه هڅه کوي چې د ټولنې د بېلابېلو قشرونو، لکه زده‌کوونکو، ښوونکو، کارکوونکو، موټر چلوونکو، کارګرانو او عامو وګړو تر منځ د لومړنیو مرستو مهارتونه عام کړي، تر څو هر وګړی وکولای شي د اړتیا پر وخت له انساني مسؤلیت سره سم اقدام وکړي. دا کمېټه همدارنګه د اړوندو ادارو، روغتیایي مرکزونو، مدني ټولنو او مرستندویه بنسټونو سره همکاري پیاوړې کوي، څو د بیړنیو پېښو پر وړاندې ګډ او منظم غبرګون رامنځته شي.

په پای کې، دا پالیسي د دې لپاره جوړه شوې ده چې د اولیه مرستو عمومي کمېټه وکولای شي خپلې دندې په منظم، اغېزمن او دوامدار ډول ترسره کړي او د ټولنې د روغتیا، خوندیتوب او هوساینې لپاره مثبت او پایدار بدلون رامنځته کړي. تمه ده چې د دې پالیسۍ عملي کېدل به د انساني ژوند د ژغورنې په برخه کې یو قوي ګام وي او د بیړنیو پېښو پر وړاندې به د ټولنې د مقابلې وړتیا نوره هم پیاوړې کړي.

Paktika University

## لومړی ماده : موخې

۱.د محصلینو او کارکوونکو د فزیکي او رواني روغتیا ساتنه او ملاتړ.
۳ .د لومړنیو طبي مرستو د چټکې، خوندي او مؤثر سیستم رامنځته کول.
۴ .د عاجلو او بېړنیو حالاتو پر مهال د منظم غبرګون او همغږۍ تأمینول.
۵ .د ساري ناروغیو د خپرېدو مخنیوی او د کنترول اغېزمن میکانېزم پلي کول.
۶ .د واکسین او وقایوي پروګرامونو د تطبیق له لارې د ناروغیو د خطر کمول.
۷ .د صحي خدمتونو د وړاندې کولو کیفیت لوړول او معیاري کول.
۸ .د محصلینو د روغتیایي حقوقو خوندي کول او د هغوی د مسؤلیتونو روښانه کول.
۹ .د صحي معلوماتو محرمیت او د شخصي طبي معلوماتو ساتنه.
۱۰ .د روغتیایي خدماتو په برخه کې د شفافیت، حساب‌ورکوونې او مسؤلیت‌پذیرۍ پیاوړتیا.
۱۱ .د فزیکي فعالیتونو، سپورټ او سالم ژوند د فرهنګ ترویج.
۱۲ .د معلولیت لرونکو محصلینو لپاره د مناسبو روغتیایي اسانتیاوو برابرول.

## دوهمه ماده: د تګلارې ارزښت او اړتیا

**۱ . د محصلینو او کارکوونکو د ژوند او روغتیا ساتنه:**
په پوهنتون کې د ګڼې ګوڼې، د فزیکي فعالیتونو او روزنیزو چارو له امله د روغتیایي خطرونو احتمال لوړ دی. د دې تګلارې پلي کېدل د محصلینو او کارکوونکو د ژوند د خوندي ساتنې او د روغتیایي زیانونو د کمولو لپاره حیاتي اهمیت لري.

**۲ .د ناروغیو مخنیوی او کنترول:**
د صحي خدمتونو منظم او معیاري سیستم کولی شي د ساري ناروغیو خپرېدو، د وقایوي برنامو کمزورۍ او د عاجلو حالاتو د ناسم مدیریت مخه ونیسي. دا تګلاره د ناروغیو د خپرېدو د خطر د کمولو، د واکسین او وقایوي پروګرامونو د اغېزمنتیا لوړولو او د پوهنتون د چاپېریال د روغتیا ساتنې لپاره اساسي چوکاټ برابروي.

**۳ .د عاجلو حالاتو او لومړنیو مرستو د چټک غبرګون یقیني کول:**
په پوهنتون کې د بېړنیو پېښو، ټپي کېدو او ناڅاپي ناروغیو امکانات شته. دا تګلاره د عاجلو حالاتو د مدیریت او د لومړنیو مرستو د چټک او اغېزمن غبرګون لپاره معیاري طرزالعملونه وړاندې کوي، تر څو د ژوند ژغورنه او د زیان کمول یقیني شي.

**۴ .د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړول او معیاري کول:**
د پوهنتون د صحي مرکزونو د خدماتو معیاري کول د محصلینو او استادانو باور زیاتوي، د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړوي او د خدماتو وړاندې کولو شفافیت تضمینوي.

**۵ .د مسؤلیت، شفافیت او همغږۍ پراختیا:**
دا تګلاره د پوهنتون د روغتیایي ادارو، کمېټو او مسؤلینو ترمنځ د همغږۍ، د مسؤلیت واضح والي او د شفافیت د اصولو پیاوړتیا تضمینوي.

۶ .د سالم ژوند فرهنګ پراخول:
د فزيکي فعاليتونو، سپورټ، صحي خوراک، د ښاک اوبو پاکوالي، د چاپېريال ساتنې او د مخدره توکو د استعمال د مخنيوي اصول د پوهنتون په ټولنه کې د سالم ژوند فرهنګ پراخوي.

په ټوليزه توګه، دا تګلاره نه يوازې د روغتيايي ستونزو د کمولو لپاره اړينه ده، بلکې د پوهنتون د ټولنيز مسؤليت، د علمي فعاليتونو د دوام او د سالم چاپېريال د تضمين لپاره هم بنسټيز ارزښت لري. د دې پلي کېدل به د پوهنتون ټول غړي د روغتيا ساتنې په برخه کې د ګډو هڅو، معياري خدمتونو او منظم غبرګون له لارې د زيانونو د کمښت او د ژوند د خونديتوب لپاره ځواکمن کړي.

## دريمه ماده: د اوليه مرستو روغتيايي مرکز د تطبيق ساحه

**۱. محصلين:**

- ټول ثبت شوي محصلين په ټولو پوهنځيو، ليليو، څانګو او نورو علمي واحدونو کې.
- دا تګلاره د هغوی د روغتيا ساتنې، عاجلو حالاتو مديريت، واکسين، صحي معايناتو او روغتيايي حقوقو لپاره تطبيق کېږي.

**۲. استادان او اداري کارکوونکي:**

- ټول تدريسي او اداري کارکوونکي چې په پوهنتون کې دنده ترسره کوي.
- د هغوی لپاره د صحي خدمتونو، د عاجلو حالاتو د مديريت، د وقايوي پروګرامونو او د روغتيا ساتنې اصول پلي کېږي.

**۳. روغتيايي مرکزونه او خدماتي واحدونه:**

- د پوهنتون صحي مرکزونه، کلينيکونه، د لومړنيو مرستو خونې، د واکسين او وقايوي پروګرامونو واحدونه.
- دا تګلاره د دغو مرکزونو د فعاليتونو، د تجهيزاتو د کارونې، د خدماتو د کيفيت او د همغږۍ لپاره عملي کېږي.

**۴. د پوهنتون چاپېريال:**

- ټولي وداني، ليليې، د زده کړې او سپورټ ځايونه، د ښاک اوبو سرچينې او تشنابونه.
- د روغتيايي معيارونو، حفظالصحی، چاپېريالي پاکوالي او د ناروغيو د خپربدو د مخنيوي اصول پلي کېږي.

Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## څلورمه ماده: اصطلاحات او تعریفونه

۱- **روغتیا** :د فزیکي، رواني او ټولنیز هوساینې بشپړ حالت.

**۲- روغتیايي مرکز:**
هغه تشکیلاتي واحدونه، کلینیکونه، د لومړنیو مرستو خونې او د روغتیايي خدمتونو واحدونه چې د پوهنتون د محصلینو، استادانو او کارکوونکو روغتیايي خدمات وړاندې کوي.

**۳- لومړني مرسته:**
هغه عاجل، ابتدايي او حیاتي اقدامات چې د ټپي، ناروغ یا په ناڅاپي حالت کې د فرد د ژوند د ژغورنې، د حالت د خرابېدو د مخنیوي او د درد د کمولو لپاره ترسره کېږي، تر څو د مسلکي روغتیايي خدمتونو تر رسېدو مخکې وضعیت کنټرول شي.

**۴- عاجل حالت:**
هغه وضعیتونه چې د ژوند، روغتیا یا خوندیتوب لپاره خطرناک وي او عاجل اقدامات یې اړین وي، لکه ټپي کېدل، ناڅاپي ناروغي، اور، زلزله یا نور ببړني پېښې.

**۵- ساري ناروغی:**
هغه ناروغۍ چې د انسانانو له یوه فرد څخه بل ته د مستقیم یا غیر مستقیم تماس له لارې انتقالېږي، او د مخنیوي او کنټرول لپاره ځانګړي تدابیر ته اړتیا لري.

**۶- وقایوي پروګرامونه:**
د روغتیا ساتنې هغه برنامې چې د ناروغیو د مخنیوي، واکسین، صحي معایناتو، تغذیې او چاپېریالي پاکوالي په شمول عملي کېږي.

**۷- چاپېریال ساتنه:**
هغه اقدامات او معیارونه چې د پوهنتون په کمپوس کې د روغتیا، حفظالصحې، خوندي او سالم چاپېریال د رامنځته کولو لپاره عملي کېږي.

**۸- معلولیت لرونکې محصلین:**
هغه زدهکوونکي چې د فزیکي، حسي یا رواني محدودیتونو له امله ځانګړو روغتیايي او تعلیمي اسانتیاوو ته اړتیا لري.

## پنځمه ماده: اساسي اصول

- **د ناروغ محرمیت** :د ناروغانو د معلوماتو ساتنه او محرمیت ته بشپړ درناوی.
- **بې‌طرفي او عدالت** :د خدمتونو وړاندې کول پرته له هر ډول تبعیض.
- **خوندیتوب او کیفیت** :د شواهدو پر بنسټ کړنلارې او خوندي عملي تمرینونه.
- **حساب ورکونه** :روڼتیا او د پرېکړو مستندسازي.

Paktika University

## شپږمه ماده: د صحي مرکز تشکيلات او دندې

د پوهنتون صحي مرکز به د طبي ډاکټر، نرسانو، د عامې روغتيا د کارکوونکو او اداري پرسونل څخه جوړ وي. د دې مرکز اساسي دندې عبارت دي له: د لومړنيو طبي مرستو وړاندې کول، وقايوي خدمتونه، روغتيايي پوهاوی، د عاجلو حالاتو همغږي، ارجاع سيستم، د معلوماتو ثبت او راپور ورکول، او له پوهنځيو سره منظم همکاري.

### د پوهنتون د صحي مرکز اورګانوګرام

**د پوهنتون صحي مرکز آمر**

**طبي ډاکټر (کلينيکي خدمات)**

لومړنی طبي معاينات

ارجاعي خدمات

**نرسنګ څانګه**

د ناروغانو ثبت او تعقيب

لومړنی طبي مرستې

**د عامې روغتيا او وقايې مسؤل**

د ساري ناروغيو مخنيوی

روغتيايي پوهاوی او کمپاينونه

**د درملو او لوجستيک مسؤل**

د درملو ذخيره او توزيع

د طبي وسايلو مديريت

**اداري او راپور ورکولو مسؤل**

د اسنادو ثبت

مياشتني او کلني راپورونه

Student Affairs
Paktika University

## اوومه ماده: د محصلینو روغتیايي حقوق او مسؤلیتونه

### ۱. د محصلینو روغتیايي حقوق

**۱. د روغتیايي خدماتو لاسرسی:**
هر محصل حق لري چې د پوهنتون صحي مرکزونو، کلینیکونو او لومړنیو مرستو خونې ته لاسرسی ولري، او اړین صحي خدمات په معیاري او پر وخت ډول ترلاسه کړي.

**۲. د عاجلو حالاتو ملاتړ:**
محصلین حق لري چې په عاجلو حالاتو کې سمدستي طبي مرستي او ملاتړ ترلاسه کړي.

**۳. د معلوماتو محرمیت:**
محصلین حق لري چې د دوی د روغتیايي معلومات محرم وساتل شي او یوازې د مجازو ادارو لخوا وکارول شي.

**۴. د وقایوي پروګرامونو ګټه اخیستنه:**
محصلین حق لري د واکسین، صحي معایناتو، د تغذیې او وقایوي پروګرامونو څخه برخمن شي.

**۵. د سالم چاپېریال حق:**
هر محصل حق لري چې په پاک، خوندي او صحي چاپېریال کې زده‌کړه وکړي، چې پکې د اوبو، تشنابونو، هوا او د چاپېریال نور صحي معیارونه رعایت شوي وي.

**۶. د صحي پوهاوي حق:**
محصلین حق لري چې د روغتیا، حفظالصحې، ساري ناروغیو د مخنیوي او سالم ژوند په اړه پوهاوی ترلاسه کړي.

## اتمه ماده: د پوهنتون د روغتیايي خدمتونو سیستم

پوهنتون به د وقایوي، درملیزو، رواني او ارجاعي خدمتونو یو منظم سیستم ولري.

## نهمه ماده: د لومړنیو طبي مرستو تګلاره

د پوهنتون د لومړنیو طبي مرستو تګلاره د عاجلو حالاتو پر مهال د محصلینو، استادانو او کارکوونکو د ژوند ژغورنې او د زیان کمولو لپاره ترتیب شوې ده. ټولې لومړنۍ مداخلې باید خوندي، معیاري او پر وخت ترسره شي. د صحي مرکز کارکوونکي، رضاکاران او محصلین په ګډه د عاجلو حالاتو مدیریت کې برخه اخلي، او ټول اړین تجهیزات باید چمتو، پاک او د کیفیت معیارونو سره سم وي.

## لسمه ماده: د عاجلو حالاتو مدیریت

د عاجلو حالاتو مدیریت د ناڅاپي پېښو، ټپي کېدو، اور، زلزله او ناڅاپي ناروغیو پر مهال د چټک او اغېزمن غبرګون لپاره ترتیب شوی. هر عاجل حالت باید سمدستي د صحي مرکز یا مسؤل کمېټې ته راپور شي، لومړني

Paktika University

اقدامات ترسره شي، او که اړتیا وي ناروغ روغتون ته انتقال شي. ټولې پروسې باید شفافې، منظمې او د نړیوالو صحي معیارونو سره سم وي، او اړوند اشخاص د عاجلو حالاتو په اړه روزل شوي وي.

## یوولسمه ماده: د ساري ناروغیو مخنیوی او کنټرول

د پوهنتون د ساري ناروغیو مخنیوي تګلاره د ناروغیو د خپرېدو د کمولو لپاره عملي اقدامات ټاکي. صحي معیارونه، واکسینونه، وقایوي پروګرامونه او د چاپېریال پاکوالی د محصلینو، استادانو او کارکوونکو د روغتیا خوندي ساتلو لپاره تطبیق کېږي. د ناروغیو پېژندنه، راپور ورکول او سمدستي اقدامات د خپرېدو مخنیوي بنسټیز میکانیزم دی.

## دوولسمه ماده: واکسین او وقایوي پروګرامونه

واکسنونه او وقایوي پروګرامونه د ساري ناروغیو د خپرېدو د خطر کمولو لپاره منظم تطبیق کېږي. دا برنامې د صحي معایناتو، واکسنونو، صحي پوهاوي او د ناروغیو د مخنیوي اقداماتو په شمول دي، او د پوهنتون ټولو غړو ته د روغتیایي خوندیتوب ضمانت ورکوي.

## دیارلسمه ماده: د استادانو د لیلیې د تغذیې او صحي خوراک اصول

د دې اصولو هدف د سالمې تغذیې، مناسب خوراکي رژیم او د کیفیت لرونکو خوراکي موادو کارول دي، څو د استادانو روغتیا، انرژي او فعالیت خوندي شي. دا اصول د خوراک په چمتو کولو، د تودوخې ساتنې، د خوړو ذخیره کولو او د حفظالصحې رعایت په شمول عملي کېږي.

## څوارلسمه ماده: د څښاک اوبو او تشنابونو معیارونه

د څښاک اوبو پاکوالی، صحي ذخیره او تشنابونو پاکوالی د ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي، د روغتیا خوندیتوب او د سالم چاپېریال د تضمین لپاره ضروري دي. د اوبو د کیفیت منظم څارنه، د تشنابونو پاکوالي ساتنه او د حفظالصحې لارښوونې تطبیق د پوهنتون ټولنې روغتیایي خوندیتوب تضمینوي.

## پنځلسمه ماده: د پوهنتون د چاپېریال ساتنه اصول

چاپېریال ساتنه د پوهنتون د ودانیو، لابراتوارونو، ښوونیزو او سپورټ ځایونو د پاکوالي، د خځلو مدیریت، د هوا کیفیت او د چاپېریال نور صحي معیارونه پلي کوي. د سالم چاپېریال ساتنه د ناروغیو د خپرېدو مخنیوی او د محصلینو او استادانو د روغتیا خوندیتوب تضمینوي.

## شپاړسمه ماده: د مخدره توکو د استعمال د مخنیوي اقدامات

د مخدره توکو استعمال مخنیوي اقدامات د محصلینو، استادانو او ټولنې د روغتیا، خوندیتوب او سالمې ټولنیزې فضا د خوندیتوب لپاره عملي کېږي. دا پروګرامونه پوهاوي، روزنه، مشوره ورکول او قانوني اقدامات پکې شامل دي.

**اولسمه ماده: د فزیکي فعالیت او سپورټ ملاتړ**

فزیکي فعالیتونه او سپورټ د محصلینو او استادانو د فزیکي روغتیا، فټنس او رواني حالت د ښه کولو لپاره ملاتړ کېږي. دا فعالیتونه د سپورټ د تجهیزاتو، روزنې او د فعال ژوند فرهنګ پراختیا سره تړلي دي.

**اتلسمه ماده: د معلولیت لرونکو محصلینو روغتیایي اسانتیاوې**

د معلولیت لرونکو محصلینو لپاره مناسب روغتیایي اسانتیاوې د زده‌کړې، حرکت، روغتیایي اړتیاوو او خوندي چاپیریال په برخه کې پوره تضمین برابروي. د اسانتیاوو تطبیق د برابرۍ او شمولیت اصولو سره سم دی.

**نولسمه ماده: د درملو ذخیره او استعمال اصول**

د درملو ذخیره او استعمال باید خوندي، منظم او معیاري وي. دا اصول د درملو د کیفیت، د استعمال د مهالویش، د پایلو څارنې او د ناوړه اغېزو د مخنیوي لپاره عملي کېږي.

**شلمه ماده: د محرمیت او طبي معلوماتو ساتنه**

ټول روغتیایي معلومات باید محرم وساتل شي، یوازې د مجازو ادارو لخوا وکارول شي، او د محصلینو، استادانو او کارکوونکو شخصي ژوند ته درناوی وکړل شي.

**یوویشتمه ماده: د روغتیایي شکایتونو او راپور ورکولو میکانیزم**

هر روغتیایي شکایت یا نارضایتي باید په منظم، شفاف او اغېزمن ډول ثبت او رسېدنه شي، تر څو ستونزې په وخت حل او د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ شي.

**دا پالیسي د اولیه مرستو روغتیاتي مرکز عمومي کمیټې په ([illegible]) پرتوکل او (۱۴۰۴/۰۹/۱۷) نیټه ثبت او تائید ده.**

پوهنمل محمد یونس اختیار
د علمي او محصلانو چارو معاون

**دا پالیسي د پکتیکا پوهنتون د علمي شورا په (۱۰) پرتوکل او (۰۹/۰۸/۱۴۴۷) نیټه ثبت او تائید ده.**

**الحاج مولوی سید محمدداود آغا الهاشمي**

**د پکتیکا پوهنتون رئیس**